# شتمنی SHTAMANAI

اوونیزه

سه شنبه | د شوال المکرم ۱۲-۱٤٤٤/ د غویي ۱۲-۱٤۰۲/ د مي ۲-۲۰۲۳/ لومړی کال / ۴۷ گڼه/ ٤ مخیز

۱


**مالیه دهندگان گرامی!**

جلب رضایت مالیه دهنده از طریق عرضه خدمات به موقع و مسلکی و نیز جمع آوری درست و شفاف عواید از جمله وظایف و اهداف عمدهٔ ما میباشد.

## سرمقاله



## ضرورت واهمیت سرمایه انسانی

اندازه گیری سرمایه فکری از دوجنبه دارای اهمیت است یکی درون سازمانی که هدف از آن تخصیص بهترمنابع در راستای کارایی و به حد اقل رساندن هزینه های سازمان است ودیگر برون سازمانی که هدف از آن در دسترس قرار دادن اطلاعات سرمایه گذاری های موجود وبالقوه سازمان برای پیش بینی رشد آینده ونیز برنامه ریزی های بلند مدت است . در آینده اقتصاد یک ملت وابسته به سرمایه انسانی است امروزه نقش واهمیت نیروی انسانی در فرآیند تولید و ارایه خدمات در جوامع بشری به عنوان مهمترین عامل مشخص کننده است . دستیابی یک کشور به سطح بالایی از بهره وری منوط به داشتن سازمانهاوبنگاه هایی است که به اندازه کافی توانایی رقابت پذیری ،سود آوری مناسب وایجاد ارزش افزوده ی بالا داشته باشند.برای ایجاد چنین سازمانهایی وجود انسانهای بهره ور ضروری است. در دست یابی به مزیت رقابتی پایدار واثر بخش منابع انسانی از اهمیت بالاترین برخوردار است . نیروی کاری یا سرمایه انسانی دارایی های هزینه بردار نه ، بلکه به عنوان دارایی های مولد تلقی می شود سرمایه انسانی با جهانی شدن وهمچنین اشباع شدن بازار کار وبا توجه به رکود اخیر در اقتصاد جهانی، توجه بیشتر را به خودجلب کرده است . توسعه ی سرمایه بشری یکی از راه حل های اساسی برای ورود به عرصه بین المللی است.

**با احترام**

**اداره**

## د مالیې وزارت مالي ځان بسیاینې ته ژمن او مسلکي کارکوونکي لري




د مالیې وزارت متعهد او دندو ته ژمن کارکوونکي د کوچني اختر په څلورمه ورځ په پوره لیوالتیا او غښتلې اراده خپلو دندو ته حاضر سول. دغو کارکوونکو له ورځني مهال وېش سره سم خپلي چاري پیل کړې، چي د دوی د صادقانه هڅو په پایله کي د کوچني اختر له پای ته رسېدو سره هم مهاله (د روان مالي کال د غوایي میاشتي له ۴-۷ نېټې پوري) په میلیونونو افغانۍ عواید را ټول کړل سول. د را ټولو سویو عوایدو دغه رقم (۹۱٦) میلیونه افغانۍ کېږي، چي د یوې پیاوړي ژمني په پایله کي را ټول سوي او ملي خزانې ته سپارل سوي دي. د مالیې وزارت ژمن او مسلکي کارکوونکي په هر ډول شرایطو کي، په ملي کچه و اولس ته د خدمتونو وړاندي کولو لپاره چمتو دي او خپل مسؤلیت په پوره لیوالتیا او هیوادني مینې سره په ښه توگه سرته رسوي.

## د افغانستان له لاري پاکستان ته د ترکمنستان د گازو صادرات پیل سول



د افغانستان له لاري پاکستان ته د ترکمستان د گازو صادرات تېره ورځ د یو لړ مراسمو په ترڅ پیل سول. په دې مراسمو کي چي د کندهار گمرک رئیس ښاغلي مولوي محمد حامد احمد، د کندهار ولایت د سوداگری خوني غړو او یو شمېر سوداگرو گډون کړی وو. دکندهار گمرک رئیس وویل چي دا ډېر د خوښئ ځای دی، چي د افغانستان له لاري پاکستان ته د ترکمنستان د گازو صادرات پیل سول چي له دې سره به له یوې خوا عواید تر لاسه سي او له بل لوري به گڼ شمېر هیوادوالو ته د کار زمینه هم برابره سي. نوموړي وویل د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره د گمرکونو لوی ریاست له لوري د بهرني ترانزیټ په برخه کي زیاتي اسانتیاوي برابري سوي دي. د یادوني وړ ده چي په (۱۴۰۱)مالي کال کي د افغانستان له لاري (۵۳،٦۷۹) محمولې ټرانزیټي توکي بېلابېلو هیوادونو ته تر سره سوي چي د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښيي.

## د کندهار گمرک د گرځنده څارني مسؤلینو لسگونه کیلو گرامه ښځینه وېښتان ونیول




**د کندهار گمرک د گرځنده څارني مسؤلینو په یو عراده ۳۰۳ ډوله بس موټر کي په ۹ پارسلو کي ۴۵۰ کیلو گرامه ښځینه ویښتان د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ په اړوندو سیمو کي ونیول او د کندهار گمرک ریاست ته ئې وسپارل. د یادونې وړ ده چي د ا.ا.ا امارت د رهبرۍ د هدایت له مخي د انسان د ویښتانو پېر او پلور په مطلق ډول بند دی او چاته اجازه نه ورکول کېږي، چي ویښتان له هیواد څخه صادر او یا یې وارد کړي.**




**د بودیجې او معلوماتي سیستمونو په اړه روزنیز پروگرامونه دایر سول**

م




**د اسلامي امارت له فتحي وروسته افغانستان د سویلي او منځنۍ اسیا د وصل په نقطې بدل سوی**

م ۳



**د گمرکونو لوی رئیس د سپین بولدک د سرحدي گمرک له چارو څخه لیدنه وکړه**

م ۲



**حقیقي کار ساز څوک دی؟!**

م ۲




**د گمرکونو لوی رئیس د یو شمېر ټرانزیټي شرکتونو له استازو سره وکتل**

م ۲



**The Ministry of Finance employs professionals who are committed to financial self-sufficiency**


م ٤

شتمني
SHTAMANAI
اوونيزه



## د اسلامي امارت له فتحي وروسته افغانستان د منځنۍ او سويلي اسيا د وصل په نقطې بدل سوی

د افغانستان لـه خـاوري پـه بهـرني ترانزيـټ کـي د پـام وړ زياتوالـی راغلـی، د ماليـې وزارت د رهبرۍ پـه هدايـت او د گمرکونـو لـوی رياسـت د غـوره مديريـت لـه املـه پـه هيـواد کـي د بهـرني ترانزيـټ لپـاره گڼـي اسـانتياوي رامنځتـه سـوي دي، لکـه:
- لـه مبـداء گمـرك څخـه تـر مقصـد گمـرك پـوري (لـه ۵ ورځـو څخـه ۱۰ ورځـو تـه) د زمـاني معيـاد زياتيـدل.
- گمرکونو کې (۲۴) او (۱٦) ساعتونو ته د کاري وخت زياتيدل.
- د ترانزيتـي تضميـن د طـی مراحلـو پروسـه را لنـډول.
- لـه منځنـۍ اسـيا څخـه سـويلي اسـيا تـه د نفتـو او گازو د ترانزيـټ لپـاره د اسـانتياوو برابـرول.
- له گاونډيو هيوادونو سره د غوره گمرکي اړيکو ټينگښت.
او همـداراز پـه (۱۴۰۱) کال کـي د سـوداگرو د لا هڅونـې پـه موخـه پـه ژيـړو سـلفرو، کينو او مالتـو ترانزيتـي تضميـن لـه (۱۱۰) سـلني څخـه (٦۰) سـلني تـه را کـم سـوی و.
پـه (۱۴۰۱) کال کـي د افغانسـتان لـه خـاوري (۵۳٦۷۹) ترانزيتـي محمولـو تـگ راتـگ کـړی، دا پـه داسي حـال کـي ده، چـي د (۱۴۰۰) کال پـه پرتلـه ۱۳۳ سـلنه او د (۱۳۹۹) کال پـه پرتلـه (۳۹٦) سـلنه زياتوالـی ښـيي، چـي سـږکال د بهـرني ترانزيـټ لـه درکـه (۲) ميليـارده افغانـۍ گمرکي عوايـد تـر لاسـه او بيـت المـال تـه سـپارل سـوي دي. سربېـره پـر دي د بهـرني ترانزيـټ پـه زياتـوالي سره پـه بېلابيلـو برخـو کـي پـه مسـتقيم او غيـر مسـتقيم ډول گـڼ شـمېر هيوادوالـو تـه د کار زمينـه هـم برابـره سـوي ده، چـي د هيـواد پـه اقتصـادي ودې او پرمختـگ کـي مثبـت زيـری دئ.
ماليـې وزارت هڅـه کـوي چـي د هيـواد پـه گمرکونـو کـي د بهـرني ترانزيـټ لپـاره نـوري اسـانتياوې هـم برابـرې کـړي؛ تـر څـو افغانسـتان د سـيمې د وصـل پـه نقطـې بـدل سي.





## د بوديجې او معلوماتي سيستمونو په اړه روزنيز پروگرامونه داير سول



د ماليـې وزارت د کورنـۍ پلټنـي لـوی رياسـت کارکوونکـو تـه د مسـلکي ظرفيـت لـوړوني پـه موخـه د بوديجـې او ماليـې وزارت اړونـد د معلومـاتي سيسـتمونو پـه اړه روزنيـز پروگرامونـه پـه لاره واچـول سـول د ماليې وزارت د کورنـۍ پلټني لـوی رياسـت د مشرتابـه پـه نوښـت، هڅـو او زيـار او د دوامـداره ظرفيـت لـوړوني (Continuing Education) اصـل تـه د ژمنتيـا پـه موخـه او همدارنگـه دا چـي د کورنـۍ پلټنـي لـوی رياسـت زيـات کارکوونکـي اوسـمهال پـه مرکـز کـي شـتون لـري، نـو لـه دغـه فرصـت څخـه پـه گټـه اخيسـتني د دوی لپـاره د ماليـې وزارت اړونـد سـترو معلومـاتي سيسـتمونو SIGTAS ،ASYCUDA ،AFMIS او د بوديجـې پـه اړه روزنيـز پروگرامونـه دايـر سـول.
د کورنـۍ پلټنـي لـوی رئيـس انجنيـر عبداللطيـف خالـد لـه دې روزنيـزو پروگرامونـو څخـه د څـارني پـه موخـه ليدنـه وکـړه او گډونوالـو تـه يـې پـه خپلـو خبـرو کـي د روزنيـزو پروگرامونـو د ارزښـت او گټـو په اړه خبري وکـړې. او زياته ئـې کـړه چـي د دا ډول پروگرامونـو تـر څنـگ پـه اداراتـو کـي د بېـلا بيلـو برخـو کارکوونکـو تـه د ظرفيـت لوړولـو پـه موخـه گټـور روزنيـز ورکشـاپونه پـه لاره اچـولي دي.

## د گمرکونو لوی رئيس د سپين بولدک د سرحدي گمرک له چارو څخه ليدنه وکړه


د گمرکونـو لـوی رئيـس ښـاغلی مفتـي عبدالمتيـن سـعيد چـي کندهـار ولايـت تـه پـه سـفر تللـی، تېـره ورځ ئـې د سـپين بولـدك لـه سرحـدي گمـرك څخـه ليدنـه وکـړه.

پـه ليدنـه کـي نومـوړي د يـاد گمـرك لـه مسـؤلينو او کارکوونکـو سره د ليـدني پـر مهـال پـه کاري سـاحه کـي د دوی شـته سـتونزي واورېدلـې. د گمرکونـو لـوی رئيـس د دوی د سـتونزو د حـل پـه موخـه اړونـدو چاروا کـو تـه لازم هدايـات ورکـړل او دوی ئـې لا زيـات خدمـت کولـو تـه وهڅـول.
همداشـان ښـاغلي سـعيد پـه دې سـفر کـي د سـپين بولـدك سرحـدي گمـرك د بـر ښـنا تامينولـو پـه موخـه د پلـي سـوي لمريـزي برېښـنا لـه پـروژې څخـه هـم ليدنـه وکـړه.
د يـادوني وړ ده چـي د گمرکونـو لـوی رئيـس لـه نـږدې څخـه د چـارو د ارزولـو پـه موخـه د هيـواد بېلابيلـو گمرکونـو تـه سـفر کـوي تـر څـو شـته سـتونزو تـه پـر خپـل وخـت سره رسـېدنه وسي.

## د گمرکونو لوی رئيس د يو شمېر ترانزيتي شرکتونو له استازو سره وکتل




د گمرکونـو لـوی رئيـس مفتـي عبدالمتيـن سـعيد د يـو شـمېر ترانزيتـي شرکتونـو لـه اسـتازو سره د گمرکونـو او عوايـدو معينيـت د غونـډو پـه تـالار کـي وکتـل.
پـه دې کتنـه کـي، چـي د گمرکونـو لوی رياسـت تخنيکـي او عمليـاتي مرسـتيالانو او يـو شـمېر رئيسـانو هـم گـډون کـړی وو، پـه پيـل کـي د ترانزيتـي شرکتونـو اسـتازو لـه گاونډيـو هيوادونـو پـه ځانگـړي ډول لـه پاکسـتان هيـواد سره او د گمرکونـو پـه گـډون د اړونـدو داخـلي ادارو لـه لـوري د شـته سـتونزو يادونـه وکـړه او د گمرکونـو لـه لـوی رئيـس څخـه ئـې د حـل غوښـتنه وکـړه.
دوی وويـل، چـي کـه پـه يـادو برخـو کـي ئـې سـتونزي حـل کـړای سي د افغانستان لـه خـاوري بـه د بهـرني ترانزيـټ کچـه نـوره هـم زياتـه سي.
د گمرکونـو لـوی رئيـس د دوی د سـتونزو لـه اوريـدو وروسـته وويـل، چـي زمـوږ هڅـه داده څـو لـه ټولـو ممکنـه لارو پـه گټـې اخيسـتنې سره د افغانسـتان لـه لاري د بهـرني ترانزيـټ کچـه لـوړه کـړو، لـه يـوې خـوا بـه دولـت تـه عوايـد راسي او لـه بلـې خـوا بـه هيوادوالـو تـه د کار زمينـه برابـره سي.
نومـوړي د يـادو شرکتونـو اسـتازو تـه ډاډ ورکـړ، چي لـه گاونډيـو هيوادونـو پـه ځانگـړي ډول لـه پاکسـتان هيـواد سره بـه د حـل پـه موخـه شـته سـتونزي پـه رسـمي ډول شريکـي سي او لـه اړونـدو داخـلي ادارو او د گمـرك پـه برخـه کـي بـه هـم ستاسـو سـتونزو ته ژر رسـېدنه وسي.



شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

# حقيقي کار ساز څوک دی؟!

محمد اکبر ( رغون)

د ټولو امورو کار ساز او مشکل کشا منان رب دی، د دې لپاره چې د ژوند ستونزې مو حل شي؛ نو ټول فوکس و هغه جل جلاله ته وکړئ، نه د هغه بنده ته. موږ ټول عمر د ژوند اوږد مسير په غلط ادرس طی کوو. کوښښ کوو، چې د هغه بنده گانو سره اړيکه جوړه کړو. تمام عمر په اړيکو او ارتباطاتو تېر سي؛ خو موږ هماغسي په خالي ميدان پاتې سو، نه خپل هدف ته ورسو او نه خپل مقصد حاصل کړو، وجه دا ده چې موږ غلطه دروازه ټکولې. راځئ، چې همدغه انرژي او وخت منان رب سره په اړيکه جوړولو کي صرف کړو، که خپل ټاکلي هدف ته ورسېدو فبها او کنه اجر خو به ئې را کړي! د منان رب د رحمت او پېرزوينې لمن خورا پراخه او ارته ده، له هغه ئې وغواړئ، د هغه ور کره ډېره خوږه او شېرينه ده. هغه سره د اړيکي لومړی پړاو توبه ده، توبه د زړه له تله وباسئ او پخپلو گناهونو ژوره پښېماني وښيئ او همېشه مو په ژبه د استغفر لله ربی من کل ذنب و اتوب اليه خواږه الفاظ جاري وساتئ. له توبې وروسته طاعات او عبادات په پوره اخلاص سره وکړئ، دا ډول ئې عبادت وکړئ لکه هغه جل جلاله چې تاسيويني او تاسو هغه وينئ. له هغو کارونو څخه چې منع کړي ئې یاست ځان وساتئ او په هغو چې ئې امر کړی و يې کړئ. له رياء څخه ځان وساتئ؛ ځکه رياء د شرك په مثال ده او حسنات داسې خوري؛ لکه اور چې خس و خاشاك خوري. له شرك څخه ځان وساتئ، الله تعالی له شرك څخه پاك دی او له شرك څخه ډېره بده مني، هغه جل جلاله په خپله خدايي کي هيڅ شريك نه مني، هغه احد او صمد ذات دی. الله تعالی ثابت او راسخ بنده گان خوښوي، له منافق او مذبذب بنده څخه ئې ډېر بد راځي. راځئ هغه جل جلاله سره په سخته او اسانه کي، په غم او ښادۍ کي د بندگۍ په کړي عهد کلك ودرېږو او يو اينچ هم شاته نسو. کله چې مو له زبرځواك خدای تعالی سره اړيکه جوړه سوه، بيا نو د نړۍ ښکرور درته هيڅ ښکاري، په هره خوا چې ور ځئ، فاتح او سر لوړی به ثابت کېږئ. مخته پراته خنډونه به خود بخوده محوه کېږي او تاته به د فلاح لاري خلاصېږي. د ځمکي او آسمان مخلوقات به تاته د بري دعاوي کوي او ستا نصرت ته به په پوره جوش او جذبه حاضرېږي. د الله تعالی د نصرت څو بېلگې: موسی عليه السلام ته ئې پر فرعون بری ور کړ، موسی ع د خپل قوم سره د نيل له سيند څخه روغ-رمټ تېر سو او فرعون او پلويان ئې غرق کړل. ابرهه چې د کعبې شريفي د ورانولو په نيت له خپل لوی لښکر سره چې فيلان هم ور سره وو د مکې معظمې په لور حرکت وکړ، الله تعالی پرې ابابيل نازل کړل او د خپلي مقدسي کوټې ساتنه ئې په وړو طوطکيو وکړه. ابراهيم عليه السلام ته ئې په اور کي نجات ور کړ. يونس عليه السلام ئې د ماهي په گېډه کي سالم وساته. يوسف عليه السلام ئې په کوهي کي ژوندی وساته. زموږ محبوب پيغمبر صلی الله عليه وسلم ئې د خپل سرکښه قوم له شر څخه وساته او په ډېرو غزاگانو کي ئې ورته د کمك لپاره ملايکې را ولېږلې.... لنډه دا چې الله تعالی هماغه الله تعالی دئ، چې د خپلو مخلصو بنده گانو حفاظت او ملاتړ ئې په مختلفو وختونو کي په مختلفو اشکالو سره کړی، نعوذ باالله هغه جل جلاله بدل سوی نه دئ، موږ بدل سوي يو او سمه لار مو پرې ايښې. الله تعالی دي موږ واقعي، شعوري او فکري مسلمانان کړي؛ نه ميراثي او تذه کره يي!






## تصميم اعطای قرارداد پروژه تخليه و بارگيری اموال گمرکی در گمرك ولايت نيمروز

بدينوسيله به تاسی ازماده چهل و سوم قانون تداركات به اطلاع عموم رسانيده ميشود، اينكه وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، پروژه تخليه و بارگيری اموال گمركی در گمرك ولايت نيمروز دارای نمبر قرارداد NCS/۱٤۰۲/MOF-۰۰۲ را با شركت خدمات لوژستيكی آسيا دايمند ديسنت به قيمت مجموعی مبلغ ۸،٤۸۱،۰۲٤ ( هشت ميليون و چهار صد هشتاد و يک هزار و بيست چهار ) افغانی عقد قرارداد نمايد. اشخاص حقيقی و حكمی كه هرگونه اعتراض درزمينه داشته باشند ميتواند اعتراض خويش را سر ازتاريخ ۱۱ ثور الی ۷ روز تقويمی طور كتبی توام با دلايل آن به وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -كابل ارائه نمايد. اين اطلاعيه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تكميل ميعاد فوق الذكر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان –رياست تداركات،آمريت تداركات- مشاوريت تداركات منزل دوم معينيت اداری.

# اعلانات داوطلبی

## کابل جلا ل آباد عمومي سړک پر سر د پکتيا کوټ سيمه کي د (۲۷۶۰) متره مربع ځمکي د داوطلبۍ خبرتيا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي، چې د کابل ولايت پکتيا کوټ سيمه کي د کابل جلال آباد عمومي سړك تر څنگ د (۲۷۶۰) متره مربع ځمکه، چې د تيلو پمپ د فعاليت لپاره مناسب ځای دئ د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري. ټول هغه حکمي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکيت په کرايه ونيسي کولای سي خپل غوښتنليکونه د اعلان د نشر څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړي قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.

## کابل ولايت لومړۍ ناحيه اړوند پل محمود خان سره د يو باب دوکان د داوطلبۍ خبرتيا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي چې د کابل ولايت (۱) ناحيه پل محمود خان سره يو باب دوکان (۹۲) شميره چې (۱۱.۵) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ لپاره اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص چې غواړي نوموړی ملکيت په کرايه ونيسي کولای سي چې خپل غوښتنليکونه د اعلان د نشر څخه د (۷) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپانه د اسنادو د ارزونې او لومړي قيمت ته پّ کتو تر لاسه کړي.

## کابل ولايت اړوند ۵ مې ناحيه کوټه سنگي سره د (۱۳) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتيا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي چې د کابل ولايت اړوند (۵) مې ناحيې ميرويس ميدان کوټه سنگي سره د ۱۳ بابه دوکانونو چې (۱۶۵) متره مربع مساحت لري په مجموعي ډول يې د داوطلبۍ له لارې اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص چې غواړي نوموړی ملکيت په کرايه ونيسي کولای سي خپل غوښتنليکونه د اعلان د نشر څخه وروسته د ۷ ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړي قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.

## اعلان داوطلبی شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان

شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان تانک تيل دولتی فابريکه قند بغلان مرکزی ولايت بغلان را بطور قرارداد به کرايه ميدهد. افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرارداد را داشته باشند در خواست های خويش را از نشر اعلان هذا الی تاريخ ۱٤٤٤/۱۰/۱۱ به مديريت عمومی نفت و گاز ولايت بغلان و شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خيرخانه سپرده و بعد از اخذ شرطنامه بتاريخ ۱٤٤٤/۱۰/۱۲ جهت اشتراك در جلسه آفرگشائی مراجعه نمايند، تضمين آفر بر طبق شرطنامه در جريان جلسه آفرگشائی اخذ ميگردد.

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه

**د امتیاز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** حبيب الله خُبيب
**د متونو تصحيح کوونکی** : ابراهیم گران
**ژباړن** : اجمل زاهد

**کتنپلاوي:** ندا محمد صديقي ، مولوي عبدالرازق متقي ،
صديق الله وفا ، شمس عاطف ، بلال احمد احدي
**د خبر مدير** : داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري


**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ويبپاڼه:** mof.gov.a
**ټويټر** : afghanistanmof @
**يوټيوب:** afghanistan mof
**شمېره** : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)












دمولوی عبدالسلام حنفی پلويان

د کابل – کندهار لويې لارې د جوړولو او اساسي ترميم چارې به ډېر ژر پيل شي إن شاء الله

...................

هدايت الله (هدايت)

د #بغلان د غوري سيمنتو فابريکې مسولين وايي، چې د اسلامي امارت په راتگ سره يې ورځنۍ توليد له ۳۵۰ ټنه څخه ٦۰۰ ټنه ته لوړ شوی دی.

...................

هدايت ارسلا

کاری ترميم سرک کابل ميدان وردک يک گام مثبت است .
سرک در اين مسير بسيار تخريب شده بود که موتروانان و مسافرين بسيار مشکلات را سپری ميکرد.
از طرفی ناوقت به مقصد ميرسد و برعلاو مصرف تيل موتر شان هم بشتر است با راه اندازی ترميم سرک مشکلات مردم حل خواهد شد انشاءالله .

## The Ministry of Finance employs professionals who are committed to financial self-sufficiency



On the fourth day of Eid-e-Saeed-e-Fitr, the Ministry of Finance׳s dedicated workers arrived at work with full enthusiasm and strong will. These workers began their work on time, and as a result of their honest efforts, 916 million Afghanis were collected and deposited in the national treasury at the end of Eid al-Fitr (from April 24 to 27, 2023). In any case, the Ministry of Finance׳s dedicated and professional personnel are ready to assist the public on a national level and carry out their responsibilities to the best of their ability with a strong feeling of patriotism.

## Turkmenistan began exporting gas to Pakistan through Afghanistan



The transportation of Turkmen gas via Afghanistan to Pakistan began with a ceremony in Kandahar province.

Mawlawi Mohammad Hamed Ahmad, Director of Kandahar Customs, officials of the Kandahar Chamber of Commerce, and other traders attended the ceremony. According to the Director of Kandahar Customs, transporting Turkmen gas to Pakistan through Afghanistan will not only generate revenue but also create jobs and income for Afghans. He added that since the Islamic Emirate of Afghanistan retook power, the General Directorate of Customs has expanded its international transit facilities. It is important to note that in FY-1401 (53679), consignments of transit goods were shipped to other nations via Afghanistan, showing a 133% increase over the previous year.

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.